مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۳/۱۰

تیر یو کال (۲۰۲۱) کې له افغان ښځو سره چلن

له ښځو سره د ترسره شوي تاوتریخوالي د خبرونو څو سرلیکونه

د مارچ اتمه

د ښځو نړیواله ورځ

تېر کال (۲۰۲۱م) مې چې د مارچ د اتمې په پار کومې مقالې خپرې کړې وې، د هرې مقالې په پیل کې مې دا مقدمه خپره کړې وه، سږکال (۲۰۲۲) مې چې بیا د مارچ د اتمې په پلمه څه لیکلي دي، د هرې مقالې په پیل کې یو ځل بیا دا مقدمه خپروم.

سږکال (۲۰۲۱) هم لکه د تېرو کلونو په شان غواړم د ښځو د نړیوالې ورځې په پار ګڼې داسې مقالې ولیکم چې د مېرمنو په باب زموږ د ټولنې منفي او مثبت افکار څرګند کړي، څو وتوانېږم چې په ټولنه کې او د خلکو په افکارو کې د افغان مېرمنې اوسنی حالت خلکو ته وښیم. په مثبتو پاینتونو به یې خامخا ویاړو او په منفي به یې هغه څوک زوریږي چې د ښځو د حقونو پلوي دي، پر متضررې خو هسې هم سور اور بل دی. د دې زوریدو او اور بلېدو تر څنګه به مو ټوله هڅه دا وي چې د مېرمنو په باب د خلکو د اذهانو منفي اړخ په مثبت ډول بدل کړو.

که زما په مقالو کې د تلې منفي خوا درنه وي، ما به نه ملامتوئ، همدا مو خلک دي، همدا مو ټولنه ده او همدا یې د ښځو په باب نظر دی چې باید د بدلولو هڅې یې ګړندی کړو. زه چې د ښځو په باب له دوی سره د تاوتریخوالي او منفي کړونو یادونه کوم، اصلي موخه مې د ښځو د غږ جګول او له دې ناوړه حالت او ستونزو نه د دوی ژغورل دي.

افغان مېرمن:

د مارچ د اتمې تر لمانځلو او ډالیو نه مو زه درتېره یم،

مه مې وهئ!

مه مې رټئ!

مه مې ښکنځئ!

نور څه مه کوئ، د انسان په سترګه راته وګورئ!

زه هرکال تر همدې سرلیک لاندې د خپل وطن د ښځو د بد او لا بد حالت د انځورولو او ښودلو په موخه د میډیا هغه سرلیکونه راټولوم چې پر ښځو باندې د شویو ظلمونو ناروا‌وو او ترسره شویو رپوټونه په کې تر نورو خلکو پورې رسول شوی وي. تېر کال ما همدا سرلیک په دغو جملاتو پیل کړی و:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«په تېر یوه کال کې زما په وطن افغانستان کې له مېرمنو سره څومره، څنګه تاوتریخوالی شوی دی؟ په دې به یوازې خدای پوهېږي او هغه ښځې به پوهېږي چې عملاً دا ظلمونه او نارواوې وربانديې شوې دي.

ښايي ځينې لوستونکي به ووايي چې زه هر کال د مارچ د اتمې په مناسبت په خپلو ليکنو کې تر مثبتو شيانو منفي دا ډېر منعکسوم او خبرې پرې کوم، ريښتيا حقيقت هم همداسې دی. دا تريخ حقيقت همدا اوس عملاً زموږ په ټولنه کې روان دی، پر ښځو باندې بې اندازې ظلم روان دی او زه مجبوره يم چې د مېرمنو د غږ د اوچتولو له پاره دا ترخه حقايق وليکم. وې وايم او تر ټولو پورې يې ورسوم.»

په تېر يوه کال کې بيا هم نه يوازې د افغان مېرمنو د ژوند هېڅ اړخ نه دی ښه شوی، بلکې نور هم مخ په منفي لوري روان شوی دی، نه يوازې يې حقونه نه دي ورکړل شوي، بلکې هغه څه چې دوی خپله په زحمتونو ترلاسه کړي وو هغه هم ورنه اخيستل شوي دي او د افغان ښځو په عيني ژوندانه کې د رنځونو نوي بابونه پرانستل شوي دي؛ د همدې دلايلو له مخې اړينه ده چې د دوی د ژوند د دردونکي حالت څرنګوالی ترنورو پورې ورسېږي، څو وکولای شو د افغان مېرمنو پر ژوند باندې د حاکمو ستونزو له پاره يوه حل لاره پيدا کړو.

دا هم د ميډيا ځينې هغه سرليکونه چې د افغان ښځو د ژوند د ناسموالي او پر دوی باندې د روانو ظلمونو رپوټونه په کې ورکړل شوي دي:

بي بي سي پښتو:

«کابل کې پر ۹ کلنې ماشومې جنسي تيری؛ پوليس وايي تورن کس يې نيولی دی»

تاند:

«باميان؛ پر جنسي تېري تورن ملا خپله پنځه کلنه لور په بدو کې ورکړه»

امريکا غږ دري:

«منع تداوی زنان بدون محرم در ولسوالی کهمرد باميان»

بي بي سي فارسي:

«نوريه تابش، کاپيتان تيم هندبال 'صلح آوران' در شمال افغانستان کشته شد؛ 'قاتل به منطقه طالبان فرار کرد'»

تاند:

«د افغانستان د هندبال د ملي ټيم کپتانه ووژل شوه»

بي بي سي فارسي:

«پرسش رسانه‌های آمريکا از دولت: چه بر سر زنان افغان می‌آيد؟»

تاند:

«تخار کې يوې مېرمنې ځان او درې اولادونه وژلې»

تاند:

«امنيتي ستونزې؛ کندهار کې تر لسو زياتو ښځينه خبريالانو خپلې دندې پريښې»

بي بي سي پښتو:

«د موبايل څراغ ته د ماشومانو ولادت»

دوچولې:

«مجبور شدم دخترم را به ۶۵ هزار افغانی بفروشم»

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تاند:

«غور کې يوې ښځې خپل خاوند او بغلان کې يوه خاوند خپله ښځه وژلې»

بي بي سي پښتو:

«د طالبانو پوهنې وزارت يوازې له نارينه وو غوښتې چې ښوونځيو ته ورشي»

بي بي سي فارسي:

«نگرانی‌ها از طالبان در تأمين حقوق زنان»

بي بي سي فارسي:

«وزارت معارف طالبان از دختران نخواست به مدرسه بازگردند»

تاند:

«طالبانو د نجونو په زده کړو غيراعلانيه بنديز ولگاوه»

ازادي راديو پښتو:

«د ښځو چارو وزارت پر ودانۍ د "امر باالمعروف وزارت" لوحه او په اړه يې انديښنې»

بي بي سي پښتو:

«د ملگرو ملتونو ادارو له ځنډ پرته د نجونو ښوونځيو پرانيستلو غوښتنه کړې»

بي بي سي فارسي:

«مدارس افغانستان باز شدند اما بدون حضور دختران»

بي بي سي پښتو:

«طالبان: د نجونو ښوونځي هم ژر پرانستل کيږي; يونسکو: که نجونو ته د زده کړو حق ورنکړل شي نه جبرانېدونکي پايلې به ولري»

بي بي سي پښتو:

«کابل ښاروالۍ: ښځينه کارکوونکې دې د اوس لپاره کورونو کې پاتې شي»

تاند:

«د کابل پوهنتون رييس: ښځينه استادانې دې پوهنتون ته نه راځي»

بي بي سي فارسي:

«قضات زن افغان؛ قاتلان محکوم، در تعقيب آنها هستند»

بي بي سي پښتو:

«افغانستان: محکوم شوي مجرمين د غچ اخيستلو لپاره ښځينه قاضيانو پسې ګرځي»

بي بي سي پښتو:

«يونان ۲۶ افغان ښځينه قاضيانو او څارنوالانو ته پناه ورکړه»

بي بي سي پښتو:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«د ښځنې نړیوال سازمان: نړیواله ټولنه باید د افغان د ښځو حقونو خوندیتوب ملاتړ وکړي»

بی بي سي پښتو:

«د افغان نجونو خپګان؛ طالبان وايي ثانوي زدکړې د نوې پالیسۍ تر چمتو کېدو مخکې نشي پیلېدای»

بي بي سي فارسي:

«گزارش آژانس زنان سازمان ملل: نگران نقض صریح حقوق زنان و دختران افغان زیر سلطه طالبان هستیم»

بي بي سي پښتو:

«ملګري ملتونه: د طالبانو له واکمنېدو راهیسې افغانستان کې د ښځو د حقونو برخه کې شاتګ شوی»

تاند:

«اروپايي ټولنه: ښځې هم د افغانستان پانګې دي خو کنګل شوې دي»

امریکا غږ پښتو:

«ملګري ملتونه: افغانستان کې د نجونو او میرمنو وضعیت د جدي اندېښنې وړ دی»

بي بي سي پښتو:

«افغانستان؛ له کورنۍ تاوتریخوالي سره د مخامخ ښځو برخلیک ته اندېښنې ډېرې شوې
د امن خونو برخلیک»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ